شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

برادرحکمتیارصدراعظم کشورباهیئت اعضاي شوراي اجرائیه اتحاد اسلامي ملاقات نمودند

کابل - ۱۷ سرطان :

برادرحکمتیار صدراعظم کشور باهیئت ازاعضاي شوراي اجرائیه اتحاد اسلامي افغانستان دیداروملاقات نمودند .

رادیوپیام آزادي به نقل ازدفترمؤقتي صدارت عظمي گزارش میدهدکه درترکیب این هیئت محترم خارنوال محمدرسول سکرترامارت اتحاد اسلامي افغانستان،محترم حاجي محمدرسول منکل مسئول کمیته سیاسي، محترم موسي خان مسئول ارتباط نظامي ومحترم انجنیرنظرمحمد وحاجي خان محمد قوماندانان تنظیم اتحاد اسلامي شرکت داشتند .

درین ملاقات روي موضوعات جاري کشور، تجدیدوتحکیم روابط اسلامي بین دوتنظیم جهادي ویك سلسله موضوعات دیگربحث ومذاکره صورت گرفت .

دافغانستان داسلامي دولت رئیس استادرباني کابل ته راورسید

کابل - دسرطان ۱۹ :

دهیواد ددولت محترم رئیس استادبرهان الدین رباني چې خوورځې وړاندي دایکوپه کنفرانس کي دگډون لپاره استانبول ته تللي وُنن بیرته خپل هیوادته راستون شو .

استادته دکابل په هوایي میدان کي پوشمیرلوړه رتبه دولتي ماموروښوهرکلي ووایه .

دیویل خبرله مخي استادرباني ارگ ته له رسیدولږوخت وروسته دجنرال دوستم سره خبري وکري .

شماره مسلسل (٦٥٧) سال شانزدهم شماره (٤٥) یکشنبه (۲۰) سرطان ۱۳۷۲ ه- ش ۲۲محرم ۱٤۱٤ هـ ،ش ۱۱جولاي ۱۹۹۲ م

بیه: یوه روپي یا ۵۰.۳افغاني

برادرحکمتیاردرمصاحبه با B.B.c

مشکل افغانستان فقط ازطریق التزام صادقانه به معاهده جلال آباد ممکن است

همه احزاب توافق کردند که همه نیروهاي مسلح باید کابل راترك بگویند.

ماهرقدمي را که درجهت خاتمه جنگ برداشته مي شود، تقدیرمیکنیم

برادرحکمتیارصدراعظم دولت اسلامي افغانستان طي مصاحبه بارادیوبي بي سي درمورد سفرجنرال دوستم به کابل گفتند : آنهامهمان رئیس جمهوراند، پروگرام شان بیشتربه آنهامربوط است . مافقط ازطریق رادیوها شنیدیم که آنهابه کابل تشریف آورده اند. وگویامي خواهند دررابطه به خاتمه جنگ واعاده صلح کاري کنند، ولي مامیگوئیم که "اعاده" صلح درافغانستان مربوط است به التزام صادقانه به موافقت نامه جلال آباد . کسیکه خواهان صلح درافغانستان وخاتمه جنگ درین کشورباشد، باید جهت تنفیذصددرصد معاهدهٔ جلال آباد کارکند، آنهائیکه نسبت به این معاهده التزام داشته باشند وخواهان حل بحران افغانستان ازطریق تطبیق این معاهده باشد، میتوانند رول مؤثرومثبتي رادرقضیه داشته باشند

برادرحکمتیار درپاسخ به این سوال که تاچه اندازه نسبت به خروج نیروهاي جنرال دوستم ازکابل پافشاري دارند، چنین گفتند : موضع ماهمان موضع قبلي است، درآن تغیري نیامده است . امروزهمه احزاب توافق کردندکه همه نیروهاي مسلح بایدکابل راترك بگویند . وجود نیروهاي مسلح درکابل باعث بي امنیتي، عدم استقرار وایجاد فضاي خوف وترس وبیم است، اسلحه ثقیل باید ازکابل بیرون کشیده شود افرادمسلح مربوط به هرگروه وهرتنظیمي که هستند کابل راترك بگویندامنیت شهرباید توسط نیروهاي مربوط به وزارت داخله تأمین شود. براین توافق صورت گرفته است. درکابینه هم فیصله شده است. کمیسیون وزارت دفاع وداخله هم فیصله کرده واین وظیفه به کمیسیون وزارت دفاع سپرده شده که هرچه زودترنیروهاي مسلح را ازشهر بیرون بکشد، اسلحه ثقیل بایدازکابل خارج شود، وامنیت توسط نیروهاي مربوط به وزارت داخله تأمین شود .

باتوجه به علاقه مندي جنرال دوستم براي شرکت در مذاکرات چندجانبه ازبرادرحکمتیارسوال شدکه وي تاچه اندازه ازاین پیشنهاداستقبال مي کند؟ صدراعظم کشوراظهارداشتند: تاهنوزرسماً بامادرین رابطه تماس گرفته نشده است . اگرازماخواسته شدکه درمذاکرات چندجانبه شرکت

ص۳

دمخابراتووزیرمحترم قاضی محمدامین "وقاد" دسره صلیب له نماینده سره وکتل

کابل - سرطان ۱۹ :

دکابل رادیوخبرورکړي چي نن ترغرمي وروسته دمخابراتو وزیرمحترم قاضي محمد امین وقاد په کابل کي دسره صلیب نماینده دخپل کارپه دفترکي دخبرولپاره ومانه .

په خبرکي زیاته شوي چي دمخابراتووزیردسره صلیب له نماینده سره دسره صلیب له خواد افغانستان له وران هیوادسره دمرستي په هکله خبري وکړي .

داتحاداسلامي یوهیئت دحزب وحدت له مشرعبدالعلي مزاري سره وکتل

کابل - دسرطان ۱۹ :

دپیام آزادي راډیو دخپل خبریال له قوله خبرورکوي چي پرون داتحاد اسلامي یو دوه کسیزه هیأت دحزب وحدت اسلامي له مشراستادعبدالعلي مزاري سره وکتل . په هیأت کي قاضي عبدالکریم اومولوي فیض محمدشامل و .

په خبرکي زیاته شوي چي ددي لیدني په ترځ کي پرنوروموضوعاتو سربیره ددواړو تنظیمونو ترمنځ ددایمي اوربند په هکله خبري اتري وشوي دیویل خبرله مخي داتحاد اسلامي اوحزب وحدت اسلامي ترمنځ دیوي موافقي له مخي څوتنه اسیران هم چي په تیروجګړوکي یې یوله بل څخه نیولي ووخوشي شویدي .

په خبرکي زیاته شوي چي ١٤ تنه دحزب وحدت اواوه تنه داتحاد اسیران خوشي کړاي شویدي .

دافغانستان داسلامي حکومت دتګلاري بشپړمتن

(۲) مخ

صدراعظم کشوربه معینان ،رؤساءو مسئولین وزارت داخله هدایات لازم دادند

کابل - ۱۸ سرطان :

رادیوپیام آزادي به نقل ازیك منبع دفترمؤقتي صدارت عظميٰ گزارش میدهدکه برادرحکمتیار صدراعظم دولت اسلامي افغانستان روزپنجشنبه بامعینان، رؤساومسئولان وزارت داخله ملاقات وگفتگونمودند .

طبق گزارش : درین جلسه محترم منشي عبدالمجید معین مسلکي ،محترم حاجي دوران معاون اداري، محترم مولوي نورمحمدنیازي سرپرست ریاست مالي ، محترم برید جنرال گل نبي احمدزي رئیس عمومي تعلیم وتربیه ، محترم تورن جنرال علي خان رئیس دفتروغلام حسن معاون قسم افسران وزارت داخله شرکت نموده راجع به حل مشکلات آن وزارت طالب هدایات گردیدند که ازجانب صدراعظم هدایات لازم داده شد .

طبق یك خبردیگري که اخیراً بدست مارسیدبرادرحکمتیار صدراعظم دولت اسلامي افغانستان بعدازظهرهمان روزباشاه محمدذاکري ، استادعزیزالله شفق والحاج کشمیرخان، اعضاي کمیسیون

ص٤

دهیوادصدراعظم دحزب اسلامی څوتنه قوماندانان دخبرولپاره ومنل

کابل - دسرطان ۱۹ :

دپیام آزادي راډیوخبریال دصدارت عظمي له موقتي دفترڅخه خبرورکوي چي پرون له غرمي وروسته دهیوادمحترم صدراعظم اودحزب اسلامي مجاهدامیروروحکمتیاردحزب اسلامي افغانستان څوتنه قوماندانان دخبرولپاره ومنل .

په خبرکي زیاته شوي چي پدي قوماندانانوکي دسماقرتي قوماندان الحاج کشمیرخان، دایشارلښکرقوماندان ابوبکر،

۳مخ

دحکومت داسلامي کولو ستونزي

دجلال آباد له ترون وروسته دډیرو ربړواومشکلاتو د راپیداکولو سره سره دهیوادصدراعظم له خوادحکومتي سیستم داسلامي کیدلولپاره یوه جامعه طرحه اوتګلاره اعلان شوه ،چي پدي ډول زمونږ دمجاهدملت په مرژواندي څیره کي یوځل بیا دهیلو اوامیدونو رڼاوځلیده ،اوپدي داومن شول ،چي دشهیدانو ارمانونه به خامخا دهدف سرمنزل ته رسي ، اوتحقق به مومي . رښتیا هم چي زمونږ پښتن ولس دیوي داسي قرباني ریکارډجوړکړي ، چي تاریخ به یې په مشکله مثال مومي . اوماتوي به یې ، خوددي قرباني دعظمت اولوړوالي عکس اوسرچپه کیدل هم په همدي پرتله یوعظیم الشان جرم دي ، چي څه ډول زمونږداسلامي انقلاب دتحریف اوبي لاري زیاړونه وګالل شول ، اوترکومه حده داسرلوړي ملت نامیده کړل شو.شك نشته ،چي دافغانستان غونډي په یوه جنګ ځپلي اووروسته پاتي هیوادکي به دحکومت چلول مشکل څه چي ناشوني کاروي ، خوانشاءالله یواځي موږنه بلکي ګرد اسلامي امت دهغومتو اوارادو په خلاقیت داومن دي ،چي تکبیر ونو یې سره امپراطوري د ړې ووړي کړه ، نوهغوي چي دخپل هیوادلپاره ویني تویولي شي ، اوس خو به تش خولي تویول اوکارکول ورته دخوښي خبره وي .داسلامي هیواد دسیاسي نظام دټینګښت اوجوړښت لپاره باید ترټولو روښې پوسر تاسري امنیت ټینګ شي ددغه کار لپاره ضروروده ،چي ټولي درني وسلي له تنظیمي عواطفو پرته راټولي شي . که څه هم دحکومت خط مشي تاکید کوي ، چي باید ولس بې وسلي نشي ، او داډیریوښه کاردي ، څکه تاریخ شاهد دي چي افغانانو هرځل پخپلو شخصي اوخصوصي وسلو که هغه ډیري ابتدایي هم وي ، له بهرني تاړاك سره دغړي وهلي، اوماتي یې ورکړیده . خو دګروپونو اوتنظیمي قوماندانیو دغه اوسني سیستم هم باید له منځه ولاړشي، څکه که زمونږ مسلح مجاهدین له یوه سره په یوځ کي وانخیستل شي ، نوڅر ګنده ده ، چي بیا به دحکومتي چلند په وړاندي هرچیرته اوهرځاي که ګواښ نه وي ، نویومتبادل شکل اوچلینج خوضروردي .همداډول موږ اورو ، چي لویدیځ پخپل کاذب تبلیغ دافغانستان قومي اوقبایلي جوړښت ته هواوروکوي ، اوزیات فعال یې ګني دتوږهمداسي شکیلاکي خطراتو دمخنیوي لپاره باید په عمومي سطحه پرسیکو وسلو هم مشروط بندیز اومشروطه ازادي نافذه شي.

باید یادونه وکړو ، چي سمدستي دي اسلامي پوځ له همدغو مجاهدینو نه تشکیل شي ، دانتخاباتو تروخته باید همداسي وي ، بیاوروسته کیدي شي ، دمکلفیت دوه کلنه دوره لکه چي په تګلاره کي ورته اشاره شوي ، دپخواپشان تحقق پیداکړي . اوپدي کي دوه ګټي دي یوه داچي ټول افغانان به پوځي روزنه ومومي ، څکه نن اسلامي امت ته همدغه یوه

۲مخ

صدراعظم کشوربه ارتباط خط مشي حکومت جدید افغانستان :

به سوالات مبصرین ومسئولین رادیوپیام ازادی جواب هاي مقنع ارائه داشتند

کابل - ۱۸ سرطان :

برادرحکمتیارصدراعظم دولت اسلامي افغانستان طي یك نشست توضیحي به ارتباط خط مشي حکومت جدیدافغانستان به روزپنجشنبه دردفترمؤقتي صدارت عظميٰ واقع چهارآسیاب به سوالات مبصرین ومسئولین رادیوتلویزیون پیام آزادي جواب هاي مقنع ارائه فرموده گفتند: هیچ یك ازهموطنان ماتاهنوزازوضع فعلي کشورمطمئن نیستند. متاسفانه تاهنوزجنگ ادامه داردوعامل اساسي این حالت تنهابدست آوردن قدرت است .

کابینه فیصله نمودکه باید قواي داوطلب امنیتي درمرکز وولایات کشورتشکیل گردد، واردوباید به اساس خواست هاي یك تن وخواهش هاي شخصي ساخته نشود. مااصرارمي ورزیم که ادارات محلي باید توسط شوراهاي محلي مجاهدین تاسیس گردد، هرگاه همهٔ احزاب درین مورد ازاخلاص وصمیمیت کاربگیرند بسیارزودخواهیم توانست امنیت کشورراتأمین نمائیم .

برادرحکمتیار افزودند : ماازتمام تنظیم هاخواهانیم که به تعهدات خویش وفانمایند، تابتوانیم اداره ،اردو وقواء امنیتي کشوررا بسازیم. اگرمااکنون میگوئیم که ماحکومت اسلامي راساخته ایم،این یك اشتباه خواهدبود .

برادرحکمتیارطي سوالي به ارتباط انتخابات وحوزه هاي

صدراعظم کشورهیئت چارنفري پوهنتون کابل راجهت ملاقات بحضورپذیرفتند

کابل - ۱۸ سرطان :

برادرحکمتیار صدراعظم کشور هیئت چهارنفري پوهنتون کابل راجهت ملاقات به حضورپذیرفتند.

طبق گزارش رادیوپیام آزادي: درین ملاقات پوهاندعبدالله "حقایقي"وپوهاند سیدمحمدمنګل استادان پوهنځي اقتصاد ،پوهنمل گلرحمن "قاضي" استادپوهنځي حقوق وعلوم سیاسي ومحمداکبر "سلام" رئیس پوهنځي هنرهاي زیباي پوهنتون کابل راجع به خط مشي صدراعظم کشوروموضوعات مربوط به پوهنتون وسایرموسسات تحصیلات عالي کشورصحبت نموده نظریات شانرابراي محترم صدراعظم ابرازداشتند. گزارش حاکي است درین دیدار برادرداکترفیض الله "کاکړ" رئیس پوهنتون اسلامي افغانستان نیز حضورداشتند .

طبق گزارش : انجنیرحکمتیار پس ازشنیدن نقطه نظرات استادان پوهنتون کابل ازایشان اظهارقدرداني نموده وخواهان همکاري همهٔ استادان پوهنتون باحکومت جدیدکشورگردیدند .

دکابل غربي خواوي یوځل بیاپه راکتونوویشتل شوي

کابل - دسرطان ۱۹ :

له کابل څخه وروستي ریپوټونه وایي چي دکابل په غربي خواکي یوځل بیا ددرنووسلوجګړه روانه او دزیاتوځاني اومالي زیانونوسبب ګرځیدلي ده .

په حزب وحدت پوري تړلي یوه منبع وایي چي تیره ورځ یوځل بیا دپل سوخته،قلعه شاده، قلعه سرخ اوکارته سه سیمي په راکټونو وویشتل شوي چي ددي حملي له امله

٤مخ

برادرجریرخبررادیو کابل مبني براینکه :

گویاوي پیام صدراعظم کشوررابه رئیس جنبش ملي رسانیده است، ردکرد

شام روزچهارشنبه رادیوکابل درسرویس خبري اش خبري رانشرنمودکه گویابرادر محمدهمایون «جریر» پیغام صدراعظم کشوررابه رئیس جنبش ملي شمال رسانیده است، برادرجریربه همین مناسبت درپاسخ به سوالات خبرنگاررادیوپیام آزادي گفت: من متیقنم که انتشارچنین خبري کارآنعده ازعناصرفرصت طلب، شرپسند وفتنه گراست که تاحال درراس امورنشراتي کشورماباقي مانده اند. ومامطمئنیم که این گونه خبر ازجانب مسئولین جنبش به آنهاداده نشده است

وبرادرجریر افزود: مابه خاطرحل وفصل منازعات ومعضلات جاري کشوربه اصل تفاهم معتقدیم وبه خاطرایجاد فضاي صلح وامنیت وبه منظوراستقرار ثبات سیاسي درکشورتفاهم با همه جوانب درگیررابه خیرومصلحت ملت مسلمان خویش مي شماریم .

محترم جریرافزودند : جنرال رشیددوستم ازرهبري حزب اسلامي افغانستان خواسته بود که جهت تفاهم به یك هیئت صلح صحبت نمایدوخواست هاي خودرا به این هیئت درمیان بگذارد، ولي رادیوتلویزیون دولتي کابل اصل مسئله را معکوس جلوه داد. محترم جریر افزود: مابه همین خاطربه خطوط اول هردوجبهه درمناطق بالاحصار رفتیم که درآنجادوجنرال

سخن روز

مردم آسیاي میانه امیدوانتظار بزرگي از افغانها دارند

براي بهترشدن وضع مهاجرین تاجک تدابیر منظمي راروي‌دست بگیریم

درشماره امروز خبري داشتیم به ارتباط اینکه مهاجرین تاجک درافغانستان باتوطیه بزرگي که ازطرف ملل متحد کارگرداني میشود روبروهستند . چنانکه معلوم شده نمایندگان ملل متحد دست دردست رژیم واپس گر اوکمونیست تاجکستان درپي این اند تامهاجرین راچه ازراه تهدید وچه ازراه فریب وخدعه باردیگر به آنطرف مرزبکشانند . چنانچه قرارمعلوم تاحال حدود ده هزار نفر ازاین مهاجرین مجبور شده اندکه تحت عوامل گوناگون باردیگر راهي تاجکستان شوند . اطلاعات رسیده مشعر برآنست که مهاجرین تازه وارد شدیداً زیر نظارت گرفته میشوند وافراد اگاه وبااحساس آنها دردم به مرگ محکوم میگردد.

انچه میخواهیم عرض نمائیم این است که مهاجرین تاجک امروز از اذهان مردم ما تقریباً فراموش شده اند. درست است مصایب وگرفتاریهاي بزرگي که دامنگیر افغانستان میباشد از حدزیاد است ولي دربهلوي همه گرفتاریها نمیشود که ازرسیدگي به حال مهاجرین تاجک که درهرحال به ماپناه آورده ومهمان ملت ماهستندشانه خالي کرد.

درشرایط کنوني باررسیدگي به مشکلات حدود پنجاه هزار مهاجر تاجک درولایت کند ز روي شانه شورا یجهادي کندزاست ، ازجانب حزب اسلامي نیز یک هیئت موظف است تاکمک ها رادراسرع وقت به مهاجرین برساند، اماچنانکه معلوم شده کاراین هیئت هنوز توسیع نشده است . سایر حلقه هاوتنظیم ها درین باب فعالیت مشخص ندارند . بهر حا ل کمک هایي که في الحال براي مهاجرین میرسد، کفاف خوراک وتهیه حداقل زندگي انها رانمیکند ودربسیار موارد مهاجرین مجبوربه فاقه کشي شده اند .

موضوع دومي که بعدازخوراک ولباس گریبانگیر مهاجرین مي باشدکمبود محل رهایش است. زیرامیدانیم که هواي کندز درشش ماه دوم سال مثل هواي پاکستان معتدل نیست.درآنجانمیشود زیرچادروخیمه زندگي کرد . بااینهم مهاجرین تاالحال حتي ازداشتن خیمه کافي نیز محروم اند . اکثرمهاجرین جداجدا در تعمیرات دولتي ومنازل شخصي جابجاشده اندکه این امرهم براي مهاجرین وهم براي اهالي کندز مشکلات زیادي رافراهم کرده وکارمنظم شدن وتحت نظر قراردادن مهاجرین رابراي شوراي محترم جهادي سنگین کرده است.

البته وضع مهاجرین درمزارشریف بدتروناگوارتر است . درآنجا اداره شهر وبرخي جبهات مجاهدین درتهیه موادکمکي به مهاجرین قسماً کمک میکنند ولي این کمک ها ناچیز است وازطرف دیگر حمایت ومراقبتي که ازحال مهاجرین درکندز میشود درآنجا وجود ندارد. مسئله عمده درآنجا،گسترش بي بندوباري وفسا داست که ادارات شهر قسماً درپي ایجاد آن اند وطبعاً مهاجرین تاجک که درحالت نابلدي، بي روزگاري وبي سرپرستي بسرمیبرند بیش ازهر قشر دیگر شکار این توطیه میشوند.

بیم آن میرود که روح دیانت وآزادمنشي مهاجرین تاجک خداي نخواسته بافساد بیالاید وازاین ملت سرشورومتحرک آسیاي میانه یک توده ملوث ومحکوم بسازد.

واقعیت امر این است که استکباردرآشکار ونهان دنبال این شده که مهاجرت مردم تاجک به افغانستان که طبعاً ناشي ازاثرات جهاد افغانستان است یک اشتباه بزرگ ترسیم شود وطوري قرار بگیرد که ملل دربند خطه آسیاي میانه دیگر هواي اسلام وآزادگي نکنند وبه زنجیر استکبار همیش راضي باشند.

درین جالازم مي آیدکه یک حرکت عمومي وهمگاني براي کمک ورسیدگي به امورمهاجرین رویدست گرفته شود. نقش عمده رادرین محورخودشوراي جهادي کندز میتواند ایفا کند. باید یک هیئت مسؤل این ولایت درداخل وخارج ازکشور بامنابع مختلف درتماس شود وباتشریح وضع مهاجرین سهم گیري معین ومداوم این منابع رادرقسمت رسیدگي به مهاجرین خواستار شوند.

اگر وضع به همین منوال ادامه پیداکند، یعني ازیک جانب مجاهدین ومردم افغانستان دربرابر مهاجرین تاجک سردباشند وازطرف دیگر فشار وتصمیم گیریهاي رنگارنگ محافل استکباري تحت اشراف ملل متحد براي گمراه کردن مهاجرین ادامه داشته باشد، واضح است که مهاجرین ازحرکت وپویایي خود مي افتند ونهضت اسلامي آسیاي میانه متحمل شکست میشود.

فراموش نکنیم که خانواده نادري بخاطر آنچه دربرابر مهاجرین فرغانه نیم قرن پیش انجام داده است، ننگ ابدي رانصیب گردیده. ازامان الله ونادر وامثالهم گله یي نیست ولي مردم دنیا ازمجاهدین انتظار دیگري دارند . انتظاري که مهاجرین افغانستان ازپاکستان داشتند درحدانتظار تاجک هاازمجاهدین افغانستان وازمردم افغانستان گرم پرولوله نبوده. مهاجرین افغانستان دروهله اول انتظار پناه دادن راازپاکستان داشتند ولي تاجکها افغانها را بچشم امام ومقتداي جهاد مي‌بینند و امیدشان بطرف افغانها بسیار زیاد است.

نباید این انتظار وافتخار بزرگ مردم تاجک رابه یاس مبدل نماییم .

عنصر اصلي وضروري درکارحمایت ازمهاجرین تاجک قدم اول جمع آوري پول وسایرموادامدادي نیست ، عنصر اصلي اینست که عطوفت ، محبت وتوجه خودرابه حال این گروه مظلوم زیاد نماییم وچنان باآنها روبروشویم وهمدردي کنیم که ازیک ملت مجاهد انتظار میرود .

محور رسیدگي به مهاجرین تاجک باید شوراي جهادي کندز باشد تمام تنظیم ها برنامه وتدابیر مشخصي درین زمینه بگیرند. کاري شو دکه مهاجرین تاجک درمزارشریف یابه کندز بیایند ویا درهمان ولایت ازآنها وارسي لازم صورت بگیرد.

دافغانستان داسلامي حکومت دتگلاري بشپړمتن

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
الحمدلله وکفي وسلام علي عباده الذین اصطفي وبعد:
فاعوذبالله من الشیطن الرجیم ،
بسم الله الرحمن الرحیم .
« ان الحکم الالله یقص الحق وهوخیرالفاصلین، وقال سبحانه وتعالي افحکم الجاهلیة یبغون ومن احسن من الله حکماً لقوم یوقنون »

درنوهیوادوالو، دالله دلاري سرتیرومجاهدینو وروڼوخویندو!

زموږگران هیواددخپل لرغوني تاریخ دیوه حساس پړاونه تیرېږي ،که څه هم زموږ مؤمن ملت دڅوارلس کلن جهادپه نتیجه کي ، دروس تیري کوونکي پوځ ته ماتي ورکړه، دروس لاسپوڅي رژیم یې نسکورکړاوخپلواکي یې ترلاسه کړه، لاتراوسه پردي نه دي توانیدلي چي

● دژاندارم اوپولیس یوه لویه قومانداني فعاله ،دښارونو اولویو لارو امنیت دهمدي پواسطه ونیول شي

دخپل جهاد مقدس اهداف پلي،اسلامي نظام قایم اودخپلي خوښي منتخب حکومت جوړکړي اوپېدي توگه جگړه پاي ته ورسوي، سوله اواجتماعي عدالت تأمین کړي اودشراوفسادهغه ځواکونه چي دپردیوپه لمسون داسلامي حکومت دقایمیدوپه وړاندي خنډاودجگړي دادامي باعث شي پخپل ځاي کښینوي .

گرانوهیوادوالو! حقیقت دادي چي لاتراوسه زموږپه ملک کي هغه اسلامي حکومت نه دي قایم شوي دکوم لپاره چي زموږ باایمانه مجاهدینود ۱٤ کلني نابرابري جگړي ټولي ستونزې اوکړاوونه وگاللي اوخپل سرونه یې دهغه لپاره دخداي (ج) په لارکي نذرانه کړل اولویشت لویشت ملک دهغوي په وینوسورشو، اولاتراوسه زموږدیونیم ملیون شهداوارمان نه دي ترسره شوي، اسلامي نظام هغه نه دي چي یوازي واکداران یې مسلمان وي اوشعارونه یې اسلامي وي، اسلامي نظام هغه دي چي هلته دالله (ج) کلمه لوړه اودخداي دین حاکم وي، شریعت نافذاوحدودجاري وي ، امنیت اوعدالت تأمین وي، هیڅوک دچاپرمال اوعزت دتیري جرئت ونشي کولاي، حاکم اومحکوم دخداي دین ته منقادوي، شخړي الله اودهغه رسول ته راجع اودشریعت مطابق حل وفصل شي، واکداران دولس په خوښه، له جبر،زوراوتزویرنه پرته دملت دځرگند بیعت په نتیجه کي وټاکلي شي، دقدرت واگي دصالح،متقي اوامین اوترټولودغوره کسانوپه لاس کي وي واکداران دولس باداران نه بلکي خادمان وي، بیت المال الهي امانت وگڼي، اوپه هغه کي نارواډځان اوخپلي ډلي په گټه تصرف ونه کړي، ملت دپوښتني اومحاسبي حق ولري ، واکمنان دملت اودهغوددغایندگانو سره په مشوره، مسلط شي اوله مشورې نه پرته پخپل سرد هیڅ اقدام اوهیڅ تصرف جرئت ونشي کولاي واکمنان خلک دځان غلامان ونه گڼي، دهغوي په سر،مال اوعزت دلوبي کولو اختیارڅانته ورنه کړي، دشرعي محکمي دواضح حکم نه پرته هیڅوک ، تعقیب، زنداني اومجازات نشي، دجرم په مقابل کي یوازي مجرم مواخذه شي اومجرم ته یوازي هغه جزاورکړه شي چي شریعت ټاکلي اوشرعي محکمي یې حکم ورکړي، دولس فردفرد دواکدارانودکړوړوداعتراض کولو، او دحق دڅرگندولو له کاملي ازادي نه برخمن وي، جومات اوقضاداواکدارانو له هرراز مداخلي نه ازادي وي داستبداداواختناق ټولي ټولي ختمي وي، دانسانانو ترمنځ دژبي، رنگ ، نسب اواجتماعي حیثیت په وجه تفرق اوامتیازحرام وگڼلي شي ، او ټول انسانان یودبل وړونه اودشریعت په وړاندي

برابروشمیرل شي.

وروڼوخویندو! په کومه ټولنه کي چي دبي وزلي اومظلوم حق تریښتولاندي شي دهغه غریبه سینه کي خپه شي، دهغه په مال ، سراوعزت تیري وشي اودزوراوزرخاوندان له ظلم اوتیري سره سره له مواخي اونیوني نه خوندي اوواکداران له دوي نه ویره ولري اوددوي دمرستي دترلاسه کولو سیاسي، اجتماعي اومالي رشوتونه ورکوي. اوچیرته چي دالله دین حاکم نه وي، امنیت اوعدالت نه وي تأمین شوي، که څه هم واکداران یې ځانته مسلمان وایي اوپه خپل شخصي

ژوندکي په اسلام عمل کوي، خوهلته اسلامي حکومت نه دي جوړشوي .

گرانوهیوادوالو ! راځئ چي داسلامي ټولني دجوړولو لپاره ملاوتړو صادقانه تعهدوکړوچي دامؤمن اوبي وزلي ولس به له رواتوستونزو اوکړاوونو څخه ژغورو، وران ملک به ودانوو، جگړه به دتل لپاره پاي ته رسوو، تل پاتي اوکامله سوله به په ملک کي تأمینوو، دشراوفسادځواکونو په خلاف به دصالح او متقي قوتونو مشترک اومستحکم صف جوړوو .

وروڼو خویندو! ماغوښتل چي په یوه غیرمنتخب حکومت کي به هیڅکله برخه وانه خلم، دنوروتړڅنگ زماوړاندیز داوچي په یوه داسي مؤقت حکومت توافق وشي چي ټولوته دمنلووړ شخصیتونونه جوړشوي وي، رهبران یکي برخه وانخلي، قدرت دمجیب له حکومت نه په سوله ایزه توگه دجگړي نه پرته هغه ته انتقال شي، بیا په شپږومیاشتوکي انتخابات ترسره شي اوپه دي ترتیب تردي نه وروسته زموږ په هیوادکي دجگړو، کودتاگانواومسلح انقلابونوسلسله دتل لپاره پاي ته ورسیږي اوزما مسلمان ولس له خپلي خوښي سره سم دواکمني الهي امانت هغه چاته وسپاري چي ددي مقصدلپاره بي

● موږداسلام په چوکاټ کي دمذهب په ازادي اودجومات اوقضاپه ازادي باورلرو

عهدکري وي، متقي اوامین وي اودجهاد په دوران کي یې داسلام په نسبت صادقانه التزام ثابت کري وي اوولس وریاندي اعتماد ولري، ماغوښتل چي مجیب واگي مجاهدینوته له جگړي نه پرته انتقال کري، کمونستان دانتلافي حکومت په جوړولو اوپه راتلونکي حکومت کي دبرخي په ترلاسه کولو اصراروونه کري اومجاهدین له جگړي پرته کابل ته داخل شي، ترخوپه دي ترتیب په کابل کي دداخلي جگړي دپیل خطرمنتفي شي اوکمونست فرصته طلبه عناصرونشي توانیداي چي دداخلي جگړي اوربل کري، متأسفانه داسي ونه شول کابل له خونړیو پیښوسره مخامخ شو، هغه ځواکونه چي ۱٤ کاله دولس په خلاف جنگیدلي اواوس نه یوازي داچي دخپلي سابقي نه نادم اوپښیمانه نه دي،بلکي خپله بقادجگړي په ادامي کي لتوي ، پدي وتوانیدل چي په کابل او دملک په نورو برخوکي دجگړي باعث شي .

درنووطنوالو! لکه څنگه چي خبریاست دجگړو له ترخوتجربونه وروسته، په اسلام آباد، مکه مکرمه اوجلال آباد کي پرېوي داسي معاهدي امضاوشوه چي دایمي اوربند اودمیزان ترمیاشتي دانتخاباتوغوښتنه کوي. دهمدي ترون په اساس نوي حکومت جوړشو، ما نه غوښتل چي په یوه

غیرمنتخب حکومت کي برخه واخلم، خودنورو داصرارپه وجه دیته ارشوم چي ددي حکومت دصدارت دنده ومنم . خوموږتعهدکري په هرصورت کي به دجلال آباد دترون دکامل تنفیذاودجگړوله اورنه دولس دژغورني لپاره پخپل ټول توان طاقت هڅه کوو. ددي حکومت لومړي هدف دنوموړي معاهدي کامل تطبیق دي .

وروڼو خویندو! حکومت ته چي کوم سترسترفوري وظایف په مخکي دي اوپکارده پخپل لندعمرکي يې ترسره کري کولاي شم په دي دول يې راخلاصه کرم :

دامنیت په برخه کي :

دجگړي فوري اودایمي خاتمه ، په مرکزاواطرافوکي دکامل امنیت تأمین، دلارو پرانستل اودحکومت دځواکونو له خوا په لاروکي دمصئونو تگ راتگ شرایط برابرول. ددي اهدافو ترلاسه کول داغوښتنه کوي چي :

الف : ټولي دلي دجلال آباددترون په وړاندي صادقانه التزام وکري اودایمي اوربندمراعات کري .

ب : دژاندارم اوپولیس لویه قومانداني فعاله اومطمئنه امنیتي قوه جوړه شي ترڅودښارونواولویولارروامنیت دهمدي امنیتي قوي په واسطه تأمین شي .

ج :ښارونه دوسلوالو دلوتپلودقطعاتو څخه تخلیه شي .

ددفاعي چاروپه برخه کي :

که څه هم زموږولس بهرني تیري کوونکي دفع کري اودتیري کوونکوپه لاس قدرت ته رسیدلي رژیم يې نسکورکري، اواوس بالفعل له کوم بهرني تجاوزاو مباشرتهدیدسره مخامخ نه دي خودبالقوي خطراتودمقابلي لپاره اوبهرني احتمالي تجاوز ددفع او طرداودهیواددخپلواکي ، استقلال، ځمکني بشپړتیا اوملي حاکمیت نه ددفاع لپاره مکلف یوچي منظم اسلامي پوځ جوړشي. پکارده ملي پوځ دپخواپه شان دمکلفیت ددوري له لاري جوړشي اوپه دي ترتیب دافغان ولس دهرفرد عسکري روزنه وشي اوله خپل هیوادنه ددفاع په

مقدس کارکي برخه واخلي.

دمکلفیت ددوري په اساس دپوځ جوړول داسي قوي مرکزي حکومت غواړي چي په ټول ملک يې تسلط قایم وي . او دافرادوجلب اواحضار ورته ممکن وي، حکومت داسي یوي مرحلي ته تررسیدوپوري دیته اړدي چي محدودپوځ ولري اوهغه هم داستخدام له لاري اودمناسبوحقوقو اوامتیازاتو په بدله کي جوړشي. پدي هکله دحکومت پالیسي داده چي :

١- دمرکز په شمول هرولایت ته دهغه دموقعیت ،نفوس اونظامي اهمیت په نظرکي نیولوسره مناسب قطعات منظورشي .

٢- داقطعات به په هرولایت کي دهمدي ولایت دجهادي شوراگانوپه واسطه دهمدي ولایت دافرادونه جوړیږي . داولیت حق به هغومجاهدینوته ورکول کیږي چي دهیواددازادي په قیام کي یې مخلصانه برخه اخستي اوددوي دقرباني په نتیجه کي روسي پوځونه زموږله ملک نه وتلوته مجبوراودپردیوپه لاس قدرت ته رسیدلي رژیم رانسکورشو .

٣- ددفاع وزارت به د نوموروقطعاتو داکمال اودپرسونل دروزني دنده پر غاړه لري .

٤- دولایاتواداري مکلفي دي، په لنده موده کي شرایط داسي برابرکري

چي دجلب اواحضارله لاري دپوځ دجوړیدو امکانات میسرشي .

٥- پوځ به په سیاسي امورروکي له مداخلي نه لیري ساتل کیږي، نظامي افسران به داحق نه لري چي دسیاسي احزابوغړیتوب ترلاسه کري اوپه سیاسي مبارزاتوکي برخه

● باید دښځو ټول اسلامي حقوق احیااوتضمین شي

واخلي. حکومت به په کلکه دي کارته پاملرنه کوي چي دپوځ قطعات دسیاسي احزابو دویش له لاري جوړنشي اوپوځ په سیاسي مبارزاتوکي ملوث نشي .دتیروه کال اود۱٤ کلن مسلحانه مقاومت

ترخوتجربوداثابته کره چي په سیاست کي دپوځ مداخله اودیوتنظیم له افرادونه دپوځ دقطعاتوتشکیل دخونړیو پیښوباعث اودتوپ اوټانك به زوروه ولس دحکومت کولو اومخالفین مسلحانه مقاومت ته دراببللووسیله ده .

موږدولس دبي وسلي کولو طرفدارنه یو، نه غواړوچي وره وسله دي له مجاهدینونه راغونډه شي اوولس دشراچوونکو په وړاندي بي وسلي شي اوله خپل مال، سراوعزت نه په دفاع کولو قادرنه وي. دیته ترجیح ورکوو چي دقانوني سندپه مقابل کي هرڅوک وکولاي شي مجاذوسله له ځان سره وساتي،

● ټول افغانان اودافغان ولس ټولي پرگني اواقشارداحدملت غړي دي

دنوروملکونوتجربوداښودلي چي دولس په لاس کي دوړي وسلي شتوالي څه هیڅکله بي امنیتي نه راپیداکیږي بلکي دخلکوپه مال، سراوعزت شراچوونکوادواره مارانو دتیري دمخنیوي لپاره ضروري گټل کیږي .

په اداري برخه کي :

له دي کبله چي ددولت امکانات محدوددي ، خومره چي حتي دماموریتودمعاشاتوداجراالپاره څه په لاس کي نه لري، حکومت مجبوردي په محدودو تشکیلاتواکتفاوکري اواضافي غیرضروري تشکیلات اوحتي په ځینوموارودوکي ځیني ضروري تشکیلات هم حذف کري، اوهغوماموریتوته چي دتشکیلاتو دتقلیل په وجه وزگارپاتي کیږي دتولیدي دندودترلاسه کولو شرایط برابرشي. همداراز ترڅو چي په ټول ملک کي دمرکزي حکومت ډیوره تسلط شرایط برابرېږي ،مجبوردي چي محلي اداري دولسوالیو ،علاقداریواوولایاتو په سطحه دمحلي شوراگانوله لاري فعالي کري . باید په هره علاقداري اوولسوالي کي دقومانداناتو ، علماواو مخوروومشرانومحلي شوراگاني جوړي شي، ترڅوله یوي خوامحلي اداري جوړي اوپرسونل انتخاب کري اوله بلي خواولایتي شوراته خپل غایندگان معرفي کري اوپه دي

● موږداقتصادپه برخه کي په ازادبازار باورلرو

ترتیب دولایت اداره فعاله شي. دولایاتو دغوشوراگانو ته به دپوځ دقطعاتواوپه ولایت پوري دمربوطه امنیتي قواودجوړولو اختیارهم ورکول کیږي .په رواتوحالاتوکي له مرکزنه په دي چاروکي تشبث غیرعملي اوحتي مضردي اودشخړواومنازعاتوباعث گرځي .

دیوي معتبري درني مقنني قوااحیااودملت رایي ته درجوع له لاري دمنتخبي شوري تشکیل اودیوي داسي معتمدي قضائیه قواجوړول چي دټولني فردفرد دهغي پریکړو ته په درنښت وگوري اوددواکمنانوله اغیزي نه خوندي وي اودټولني دټولو پینبوپه هکله

دوروستي پریکري صلاحیت اوجرئت ولري زموږدحکومت له مهمواهدافوڅخه دي .

په اجتماعي برخه کي :

اسلام ټول انسانان برابراودیوبل ورونه گڼي، اوهغه ژبني، قومي اومذهبي تعصبات حرام شمیري چي اجتماعي عدالت تهدیدکري اودرنگ ، ژبي اومذهب په اساس دچاانساني حقوق تلف کري .

ټول افغانان اودافغان ولس ټولي پرگني اواقشارداحدملت غړي دي چي اسلامي حکومت به دوي ته په سیاسي اجتماعي ،اواقتصادي لحاظ یوشان ته شرایط برابروي، اودهرراز تعصب اوتبعیض جرړي به باسي .

په اسلام کي ښځوته تربل هرمسلك نه زیات امتیازات اوحقوق منل شوي باید دښځوټول اسلامي حقوق احیاً اوتضمین شي اودافغانستان په نوي اسلامي ټولني کي خپل اسلامي رول ترسره کري. امیددي زموږنوي اساسي قانون دښځوداسلامي حقوقو اواجتماعي فعال رول په هکله واضحه فیصله وکري . موږ غواړو ښځي اوناریته خپل اسلامي هویت اوشخصیت وساتي ، اودپردیودسپك تقلیدپه ځاي دیومستقل تاریخ جوړونکي قوم دقهرمانو زامنوپه څیره نړیوالوته غونه اودتقلیدورشخصیتونه وړاندي کري .

حقیقت دادي چي دښځي سقوط دټولني دسقوط مقدمه ده ، که ښځه دایمان اوعلم په وسله سمبال شوه، په خپلي غیږکي به دتاریخ سترستر قهرمانان روزي .

موږداسلام په چوکاټ دمذهب په ازادي اودجومات اوقضائیه قوي په ازادي باورلرو، همداراز پداسي حال کي چي داحزابوترمنځ دشخړي اومنازعاتو دسوله ایزحل طرفداري کوو، په احزابو دسالم سیاسي رقابت اوولس ته دانساني خدماتوپه وړاندي کولو اوخپل مرام، تگلاري ، سیاسي اواجتماعي پروگرام ته دولس دراببللو اودخبرپه کارکي له یوبل سره دتنافس خورامساعدشرایط برابرول غواړو .

داحزابودسیاسي فعالیت دکاملي ازادي طرفداریو،اسلامي سیاسي احزاب کولاي شي دقانون سره سم ، اخبار، مجلي اونورتبلیغاتي وسایل ولري، دوي حق لري چي دحکومت په کرو وړواوتصرفاتونظارت وکري اوخپل اعتراض او انتقادولس ته وړاندي کري، په هیڅ دول سیاسي اونشراتي فعالیت ترهغه بندیزنشي لگیدي ترڅوچي دچاحق یې نه وي تلف کري، دچاپه عزت اوکرامت یې تیري نه وي کري، درښتیاپه ځاي یې دروغ نه وي خواره کري اودهیواددگټو په خلاف اودامنیت دمختل کولو لپاره یې هڅوني او تحریکات نه وي کري .

البته هیڅ ډله حق نه لري دولتي تبلیغاتي وسایل، رادیواوتلویزیون ، پخپل انحصارکي اودخاصي دلي په گټه وڅرخوي .

داوسایل په ټول ملت پوري مربوط دي، واکمن اومخالف احزاب له هغه نه دمساوي استفادي حق لري .

حکومت غواړي دجلال آباد دترون سره سم دروان کال دمیزان ترمیاشتي، انتخابات ترسره شي. منتخبه شوري جوړه اودملك لپاره اساسي قانون تصویب کړي، اوپه دي ترتیب له دي نه وروسته دکودتاگانواوسازشونوله لاري قدرت ته درسیدوټولي لاري بندي شي اوبیا زموږپه هیوادکي دحکومت جوړولو او له یوه نه بل ته دقدرت دانتقال په پروسه کي وینه توږي نشي اوتوپ اوټانك استعمال نشي

۳مخ

دافغانستان داسلامی حکومت دتگلاری ...

یتیمانواوشهداوکورنیوته جدي پاملرنه، دجهادله معلولینوسره دوامداره مرسته اودمهاجرینودبیرته راستنیدواوبیخپل تاټوبي کې ددوی اسکان ته خاصه توجه ددولت له لومړنیودندوڅخه ده.

دزده کړې اوروزنې په اړوند

موږبه په ټول جدیت سره هڅه کووچې دهیواددزده کړې اوروزنې نظام په سالمې اواسلامي بڼه کې دبیرژرفعال کړو.

تعلیمي نصاب اصلاح اوزموږداسلامي ټولنې دنوومقتضیاتوسره سم عیارشي داسې چې زموږله تعلیمي موسساتونه دایمان اوعقیدې په وسله سمبال مؤمن افسران، ډاکتران، انجنیران اوله خدای نه ویریدونکې حاکمان اوقاضیان، اوباایمانه فني

داحزابودکاملې آزادۍ اوسیاسي فعالیت طرفداریو

اومسلکي پرسونل فارغ شي. موږ دهمدې ممکنه وسایلو نه په استفادې سره داهڅه کووچې دټول هیوادتعلیمي مؤسسات مخصوصاً دکابل پوهنتون -چې دوروستیو شخړوپه ترځ کې له فعالیت نه لویدلی، دبیرژرپه کار پیل وکړي، حکومت به خپل طویل المدت تعلیمي پلان داسې جوړوي چې دهیوادپه ټولو ولایاتوکې دابتدائیې اوعالي زده کړې مناسب شرایط برابرشي. دهیواد دننه اوبهرځوانوزده کوونکو دسالمې فکرې روزنې اوبه تنظیم اوددوی له ځوان ځواك اواستعداد نه داسلامي انقلاب داهدافو دتحقق په لاره کې گټه اخستل اوددوی دفکرې ودې لپاره داسې مناسب شرایط برابرول چې زموږځوان نسل دراتلونکې اسلامي افغانستان لپاره سالم اومؤمن قیادت اومشرتابه وړاندې کړي چې دحکومت دسترواهدافو څخه دي.

دروغتیاپه برخه کې:

روغتیااوصحت ته پاملرنه ترهغې په زړه پورې نتیجه نه شي ورکولای او دناروغیودخوریدومخه نشي نیولای ترڅوچې دفقردمعالجې لپاره متوازنه هڅه ونشي. فقر داخلاقي اواجتماعي مفاسدو ترڅنگ څنگ دناروغتیااورنځ دخوریدلو سترعامل دي

دروغتونونواوکتنځیوبیاوداتول فعالول اوددوادرملو دتسهیلاتو دبرابرولو ترڅنگ څنگ دولت په دې مکلف دې چې دخلکوداقتصادي ستونزو دحل اودولس دژوندانه دسطحې دلوړولوپه هکله مؤثرگامونه واخلي.

دکرهنې په برخه کې:

د۱٤ کلنې جگړې په ترځ کې دهیوادکرهنې، بندونو، نهرونو، کاریزونواوځنگلونو ته سخته صدمه رسیدلې او په همدې تناسب مالداري زیانمنه شوې، دهیواددې اړخ ته جدي پاملرنه دحکومت له مهمودندو څخه ده متاسفانه ټیرومفسدوحکومتونو دهیواد داوبوغني زیرمو وسیعو حاصلخیزو دښتو اوحاصل ورشاړوځمکوته هیڅ ډول پاملرنه نه ده کړې.

زموږداوبو زیاته برخه بهرنیوملکونوته درومي.

داوبودمهارولو اوله هغه نه دشاړوځمکوداباودولو په برخه کې هیڅ استفاده نه ده شوې زموږ هیواددکرهنې په برخه کې ددېرې کمې توجه په نتیجه کې دافغانستان دموجوده نفوس په پرتله څوچنده نفوس ته غله اومیوه ورسولای شي، دهیوادلومړنۍ ضرورت همدادی. چې دغلې له خوایخپلوپښوودریږي، نه یوازې داچې دبهرنه دغلې اوغوړیواونورو حیواني محصولاتو له واردولو وژغورل شو بلکې خپلو گاونډیوهیوادوته صادرهم کړو.

دې هدف ته درسیدوټول امکانات شته په لیپاملرنه اوزحمت سره دااهداف ترلاسه کیدای شي.

داقتصاداوتجارت په برخه کې:

زموږهیوادجگړې اودکمونستانوله تسلط نه دمخه له اقتصادي پلوه ددنیاترټولو وروسته پاتې هیوادو، دجگړې په نتیجه کې زموږمحدود اقتصادي تاسیسات هم له منځه ولاړل، دبې امنیتې په وجه تجارت کلکه صدمه ولیدله تجارانو، بهایانوخپلې سرمایې بهرته انتقال کړې.

